
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ شپږمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۷مه | ۴۷۰یمه گڼه

کتاب

۴ مخ

## د میني رازونه




مینه هغه پدیده ده چې ژوند ته رښتیني مانا ورکوي او تاسې ته د ژوند کولو اصلي لارې ښیي. مینه مو د نفرت او کینې خلاف ژوند ته رابولي او ستاسې پر مخ د خوښیو ور پرانیزي.

## په خوست کې د جلغوزیو او چهارمغزو ځنگلونو د بیارغونې پروژه پیل شوې



د خوست په پنځو ولسوالیو کې د جلغوزیو او چهارمغزو ځنگلونو د بیارغونې پروژه پیل شوې.

د دغه ولایت چارواکي وایي، د دې پروژې په پلي کولو سره به له یوې خوا وهل شوي ځنگلونه بېرته ورغول شي او له بلې خوا به خلکو ته په کې د کار زمینه برابره شي.

د هغوی په خبره، دغه پروژه د کرنې وزارت په مالي لگښت پلي کېږي او ټول ۶۵ میلیونه افغانۍ لگښت پرې راځي.

د خوست والي محمدحلیم فدایي وایي، د دغه ولایت په سپېره، دوه منده، تنیو، ځاځي میدان او موسی خېلو ولسوالیو کې د جلغوزیو او چهارمغزو هغه ځنگلونه چې زیانمن شوي، د دغې پروژې په پلي کېدو سره به بېرته ورغول شي.

د هغه په خبره، د جلغوزیو او چهارمغزو نیالگیو د روزنې په موخه، د ۳۶۰ قوریو پر جوړولو کار روان دی چې هره قوریه د شپږو زره نیالگیو ظرفیت لري.

# د ټاکنو نامعلوم برخلیک؛

## د ثبات او همپالنې ټیم د نویو اعتراضونو د پیلولو خبرداری ورکړی دی



۳

زیاتېدونکې ټاکنیزه لانجه او حللاره
۲ مخ

پاکستان په افغانستان کې څه غواړي؟
۲ مخ

پولي سیاستونه
۵ مخ

## ملگري ملتونه: افغانستان د ماشومانو لپاره تر ټولو مرگونی هېواد دی

ملگرو ملتونو ویلي چې افغانستان د ماشومانو لپاره تر ټولو مرگونی هېواد دی.

دغه بنسټ د ماشومانو د ژوند د ښه والي لپاره په حکومتي ادارو کې پر کم کارۍ د نیوکې تر څنگ ویلي، له دریو میلیونو زیاتو ماشومانو د جگړې د دوام، ناامنیو او فقر له امله ښوونځي پرېښي چې نیم میلیون یې په بهر کې مهاجر دي.

په ورته وخت کې د بشري حقونو کمېسیون هم ویلي، چې په تېرو اوو میاشتو کې د تاوتریخوالي څلور زره پېښې ثبت شوې دي، چې د ماشومانو پر وړاندې خشونت هم پکې شامل دی.

د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړې مرستیال توبي لنزر ویلي، چې افغانستان د ماشومانو لپاره د جگړې، ناامنۍ او فقر له امله تر ټولو مرگونی هېواد دی، چې اوسمهال ۳.۷ میلیونه ماشومان چې ۶۰ سلنه یې نجونې تشکیلوي، له ښوونځیو څخه پاتې دي.

په ورته وخت کې د بشري حقونو کمېسیون هم د ماشومانو پر وړاندې ستونزې د اندېښنې وړ بولي، خو حکومت په دې برخه کې د قانوني کړنو خبر ورکوي.

د یادونې ده چې ماشومانو ته د حکومت نه پاملرنه او په هېواد کې د فقر او ناامنۍ زیاتوالی هغه لاملونه دي، چې له کبله یې ماشومان ښوونځیو ته له تگ څخه محروم دي او پر سختو کارونو بوخت دي.

## د ټاکنو خپلواک کمېسیون لاهم په درغلیو کې د ښکېلو کسانو نوملړ نه دی راسپارلی

کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون
د افغانستان اسلامي جمهوریت
2013
۱۳۹۲
Independent Electoral Complaints Commission

۲ مخ

## هیواد: بر اساس یک بستهٔ اصلاحات بنیادی در وزارت امور خارجه صورت خواهد گرفت




وزارت امور خارجهٔ روی یک بستهٔ اصلاحاتی کار می کند و پس از تکمیل شدن آن، اصلاحات بنیادی در این وزارت صورت خواهد گرفت.

گران هیواد سخن‌گوی این وزارت که دیروز در یک کنفرانس خبری در مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت صحبت می کرد، گفت که وزارت امور خارجه به اساس ارزیابی‌های همه جانبه، روی یک بسته اصلاحاتی کار می کند، که این بسته به تمامی نماینده‌گی‌های سیاسی افغانستان در بیرون از کشور فرستاده شده و پس از نهایی شدن ارزیابی‌ها، بسته اصلاحاتی اعلام می‌شود. هیواد افزوده است: «بسته اصلاحاتی در عرصه تحلیل، تصحیح و بروز رسانیدن دکتورین سیاست خارجی، قوانین و مقررات، لوایح، تشکیل وزارت امورخارجه و اصلاحات کدری خواهد بود». او گفته است که عمده ترین بخش در این بسته اصلاحاتی، اقتصاد محور شدن دیپلوماسی سیاست خارجی افغانستان با جهان است. سخن‌گوی وزارت امور خارجه تأکید کرده است که هدف این برنامه، این است تا با در نظر داشت قوانین اقتصادی و حمایت اقتصادی کشورها از افغانستان، روابط اقتصادی افغانستان با جهان اقتصاد محور گردد. موصوف همچنان گفته است که حکومت در نظر دارد تا افغانستان را به عنوان نقطه وصل کشورهای منطقه به ویژه آسیای مرکزی با آسیای جنوبی، تبدیل کند. به گفته وی، به همین اساس وزارت خارجه باید در سیاست دکتورین خارجی، اصلاحات و ظرفیت سازی را انجام بدهد؛ تا کسانی که از افغانستان در بیرون از کشور نماینده‌گی می کنند، ظرفیت این را داشته باشند که برای افغانستان بازاریابی نمایند.

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com | Shigal English Academy | www.shigal.edu.af | +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـځ

### زیاتېدونکې ټاکنیزه لانجه او حلاره

ټاکنیزه لانجه ورځ تر بلې پېچلې کېږي. کمېسیون او ټاکنیز ټیمونه د دې پر ځای چې د ستونزو د حل پر لور گامونه واخلي، فاصلې زیاتوي او ستونزه پراخېږي. اوس تازه د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې گواښ کړی چې که ټاکنو کمېسیون تر راتلونکې شنبې د دوی له خوا پېژندل شوې مشکوکې رایې باطلې نه کړي، دوی به اعتراضونو ته نوی رنگ ورکړي. دې ډلې د ټاکنو کمېسیون د قانون او طرزالعملونو په نقض او د دولت ساز ټیم پر ملاتړ تورن کړی دی. کمېسیون بیا همغه پخوانی دریځ لري او پر خپله خبره ولاړ دی. دولت ساز ټیم بیا له گواښه ډکه ژبه کاروي او د حکومتي زور د کارولو خبره کوي. پرون په همدې تړاو محمد اشرف غني یوې غونډې ته وویل چې د افغانستان په اوسني حالت کې هېڅوک د قانون حاکمیت ته گواښ نشي پېښولی. هغه دغه راز وویل ځینې کسان باید پوه شي چې افغانستان اوس هغه هېواد نه دی چې خلک دې گواښونه وکړي او نور خلک دې په دې توگه معاملې ته اړ باسي. نوموړي وویل چې امنیتي ځواکونو د قانون حاکمیت ساتلی او ساتي به یې.

داسې ښکاري چې ټاکنیزه لانجه زور اخلي. د دولت ساز ټیم مرستیال امرالله صالح بیا پرله پسې په ټولنیزو رسنیو کې وایي چې د ثبات او همپالنې ټیم تاوتریخوالي ته تیاری نیسي. له دې وړاندې دفاع وزیر په همدې تړاو یو ډول گواښ کړی و او د امنیتي ځواکونو د گام پورته کولو خبره یې کړې وه. دا ورځې داسې دي لکه د ۲۰۱۴ ز کال د ټاکنو چې ترې د بحران او لانجو بوی راځي. که د کمېسیون له خوا کوم متفاوت گام وانه خیستل شي، نو داسې ښکاري چې ستونزه به پراخه شي، یو ځل بیا په لاریونونه وي، لارې او سړکونه به بند وي او د ټاکنو پایلو به افغانستان یو ژور بحران ته بیولی وي. له بده مرغه د کمېسیون کمزوري مدیریت، ناخپلواک عمل او د قانون خلاف کړنو دې ته لاره هواره کړه چې اوس پرې پراخې نیوکې وشي او دوی دغو نیوکو ته ځواب هم ونه لري. له همدې امله ټاکنیز ټیمونه هغه پایله نه مني چې کمېسیون یې اعلانوي.

اوس هم وخت شته چې کمېسیون ستونزه حل کړي. لومړی خو تر هر څه وړاندې یو پراخ وضاحت ته اړتیا شته. پر کمېسیون جدي او مستند تورونه شته چې پکار ده کمېسیون په دې تړاو ملت ته وضاحت ورکړي. کمېسیون باید ثابته کړي چې کړنې یې د اساسي قانون، د ټاکنو د قانون او دغه راز د هغو طرزالعملونو پر اساس دي چې دوی خپله تصویب کړې دي. که کمېسیون خلکو ته وضاحت او قناعت ورکړي، ټاکنیز ټیمونه به هم د فشار احساس وکړي او د گټونکي په څنگ کې به ودرېږي. اوس چې کمېسیون خپله قانون نقض کوي او په دې تړاو وضاحت هم نه شي ورکولی، نو د بحران لامل دی او پړه یې هم د دوی پر غاړه ده. که کمېسیون تېروتنې او د قانون خلاف کړنې کړې وي، اوس دې یې هم اصلاح کړي، خلک به یې ملاتړ وکړي او د دغه بحران مخه به ونیول شي.

# پاکستان په افغانستان کې څه غواړي؟

لیکنه: نورمدین بلخېل

پاکستان د افغانستان په جنوب او ختیځ کې هغه گاونډی دی چې له تېرو ۷۰ کالو راهیسې له افغانانو سره د ځینو مسایلو په وجه لاس او گرېوان دی او تل یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کړې، چې په نتیجه کې یې ورځ تر بلې د افغانستان د ولس په منځ کې د دوی په مورد فقط نفرت او کرکه زیات شوي دي او بس!

هر کله چې په افغانستان کې د ښي اړخو او کیڼ اړخو سیاستوالو خبره منځ ته راغله، نو ورسره د پاکستان د مداخلې لاس افغانستان ته را اوږد شو او هڅه یې وکړه څو په افغانستان کې له یو داسې حکومت سره نږدې پاتې شي، چې دا حکومت له دوی سره ځینې دوطرفه سیاسي ستونزې دومره جدي ونه نیسي. د افغانستان او پاکستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې د یو او بل له خوا لاسوهنه او یا هم د خپلو موخو د تر لاسه کولو په پار کله کله عیني او ډېری وخت د پردې تر شا د مداخلې هڅې که څه هم له دې وړاندې آن په هغه وخت کې پیل شوې وې، کله چې پاکستان را منځ ته شو او بیا چې کله پاکستان په ملگرو ملتونو کې د غړیتوب غوښتنه وکړه، افغانستان یې مخالفت وکړ او په وروسته کې دا خبره سره گرمه شوه چې گنې افغانستان او پاکستان د یو او بل په چارو کې لاسوهنه کوي.

مخکې مو یادونه وکړه چې پاکستان په افغانستان کې هغه وخت خپل د لاسوهنې بهیر گړندی کړ، کله چې په افغانستان کې د ښي اړخو او کیڼ اړخو ډلو د را منځ ته کیدو خبره مطرح شوه. ښي اړخي په افغانستان کې اکثریت اسلامي گوندونه او کیڼ اړخي بیا په افغانستان کې د کمونېزم د فکر واله خلک (خلق ډیموکراټیک، شغله جاوېد او مجاهدین خلق) گوندونه او ډلې وو، کوم چې دوی په خپلو منځو هم ډېرې ستونزې سره لرلې، خو فکري لوری یې سره یو و.

کله چې د افغانستان د شاهي نظام له خوا دغه ښي او کیڼ اړخونه د سیاسي تشنجاتو په اساس وځپل شول، نو ښي اړخي او اسلامپال افراد د پاکستان له ځینو اسلامي تنظیمونو سره د اړیکو په وجه پاکستان ته وتښتېدل او بیا تر هغه چې په افغانستان کې د کیڼ اړخو ډلو او په خاص ډول د خلق ډیموکراټیک له خوا د ثور د اوومې کرغېړنه کودتا وشوه، نو دغو خلکو په پاکستان کې خپلې ډلې او گوندونه تشکیل کړل او په افغانستان کې یې د خلق ډیموکراټیک گوند د حاکمیت په خلاف جگړه پیل کړه او پاکستان هم له دغه فرصت څخه گټه پورته کړه. له دغو ډلو سره یې اړیکې جوړې کړې، پاکستان په دې سره دوه هدفونه تر تعقیب لاندې ونیول، یو دا چې افغاني اسلامپالي که د پاکستان په همکارۍ قدرت تر لاسه کوي، نو یو خو به د ډیورنډ په کرښه کې نظر نورو حکومتونو ته دومره سخت نه وي او دویم همدغه اسلامي گوندونه له هند سره د کشمیر په سر ممکن پاکستان ته ترجیح ورکړي چې دا دواړه هدفونه د پاکستان لپاره په زړه پورې وو.

کله چې افغانستان د شوروي اتحاد پوځیانو له خوا اشغال شو، نو ورسره په افغانستان کې جگړه لا توده شوه، په دې سره په پاکستان کې له مېشتو اسلامي ډلو سره نه یوازې د پاکستان همکاري زیاته شوه، بلکې امریکا او سعوي عربستان هم د نوموړو ډلو د وسلوال کولو او هم له هغوی سره د هر ډول مادي او معنوي مرستو لپاره را ودانگل. د عربانو او غربیانو بې ساري مرستې ډېرې ژر د پاکستان هېواد ته را ورسیدې، چې په دې سره نه یوازې افغان مجاهدینو ډېره گټه وکړه، بلکې د دې مرستو یوه برخه خپله د پاکستان پوځ او حکومت ته هم ورسیده، چې په دې سره پاکستان په راتلونکې کې ډېر پرمختگونه تر لاسه کړل.

پاکستان وایي چې هند د پاکستان عنعنوي دښمن دی، ایران هم له پاکستان سره ښې اړیکې نه لري، که چېرته په افغانستان کې یو داسې حکومت را منځ ته کیږي چې د پاکستان په نسبت هندوستان ته ترجیح ورکوي، نو دا د پاکستان لپاره یو ستر خطر دی او په دې سره به پاکستان د دښمن تر محاصرې لاندې وي.

پاکستان داسې یو فکر هم کوي چې د هند دا ډول حضور چې په اوسمهال کې یې په افغانستان کې لري، د دوی لپاره یو گواښ گڼل کیږي، ځکه پاکستان فکر کوي چې په افغانستان کې د هند له خوا د افغانستان په ځینو ښارونو کې چې پاکستان ته نږدې واقع دي، د کونسلگریو جوړېدل د دوی لپاره یو خطر دی. داسې هم ویل کیږي چې هند له همدغو ډیپلوماتیکو مرکزونو څخه په استفادې د پاکستان په خاوره کې تخریبي فعالیتونه تر سره کوي، خو دا خبره د هند او هم د افغانستان له خوا رد شوې ده.

هند له پاکستان سره د کشمیر په سر مشکل لري، پاکستان وایي، څو چې کشمیر له پاکستان سره ونه تړل شي، تر هغې د هند او پاکستان ستونزه نه شي حل کیدای، په اوسمهال کې د کشمیر له دریو دوه د هند او پاتې یوه برخه د پاکستان تر سلطې لاندې ده، دا چې د کشمیر زیاتره اوسیدونکي مسلمانان دي، نو په دې وجه اکثره کشمیریان له پاکستان سره یو ځای کیدل غواړي، خو هند بیا کشمیر د ځان یوه نه جلاکېدونکې برخه بولي او وایي چې هېڅکله به له کشمیر څخه لاس په سر نه شي.

د پاکستان نظامي- استخباراتي اداره(آی اېس آی) له تېرو ۳۰ کالو راهیسې په کشمیر کې د ځینو کشمیري اسلامي ډلو په واسطه له هند سره پر جگړه اخته ده او غواړي چې له همدغې لارې څخه په یو ډول نه یو ډول پر هندوستان باندې فشار راوړي، خو هندوستان په ټول توان هڅه کوي څو د کشمیریانو دا پاڅون وځپي.

هند د طالبانو د نظام په وخت کې له افغانستان سره ښه روابط نه درلودل او هند داسې انگېرله چې طالبان د کشمیر د مجاهدینو ملاتړ کوي او په دې وجه هندوستان ټول وخت د طالبانو د حکومت مخالفو ډلو ته پیسې او وسلې ورکولې، چې د هند او طالبانو تر منځ دا درز تر ننه همداسې پاتې دی. اوسمهال چې طالبان د سیمې او نړۍ له مهمو قدرتونو سره اړیکې لري، تر اوسه یې له هند سره د ښو او بدو غرض نه دی کړی، چې دا خپله د دوی تر منځ د اړیکو د خرابوالي دلیل دی.

خلاصه دا چې تر هغې پاکستان په افغانستان کې په قرار نه کېني، څو چې په دې هېواد کې یو داسې حکومت قایم شوی نه وي، چې د هند او پاکستان تر منځ د کشمیر په مسئله کې پاکستان ته حق اولیت ور نه کړي. بل دا چې دوی غواړي په افغانستان کې یو داسې حکومت واکمن وي، چې له آمو څخه تر اټکه پورې په دې سیمه کې د پاکستان گټې خوندي شي او هم په ډیورنډ موضوع کې له پاکستان سره سخت زړی او جدي نه وي. که څه هم پاکستان په تېر کې پر دې نه دی توانېدلی چې په افغانستان کې یوه داسې ډله او یا خلک قدرت ته ورسوي، چې ډیورنډ کرښه د یوې رسمي کرښې په توگه پرې ومني او دا غوښتنه یې د طالبانو د نظام په وخت د طالبانو له ستر مذهبي مشر ملا محمد عمر مجاهد څخه کړې هم وه، چې هغه د پاکستان دا غوښتنه په کلکه رد کړې وه.

## عامې روغتیا وزارت: لاهم په هېواد کې ۴۱ سلنه ښځې د وینې له کموالي سره مخ دي

عامې روغتیا وزارت وېلي، په هېواد کې ۴۱ سلنه ښځې او نجونې د وینې له کموالي سره مخ دي.

د دغه وزارت چارواکو ویلي، د ۲۰۱٦ میلادي کال له پیل راهیسې تر اوسه پورې ۱.٦ میلیونو نجونو ته فولیک اسید ټابلېټونه ورکړل شوي، هغه ټابلېټونه چې د بدن اوسپنه ډېروي او د ښځو او نجونو د وینې د کموالي مخه نیسي.

د دغه وزارت چارواکو تېره ورځ د وینې د کموالي د نړیوالې ورځې په مناسبت په جوړه شوې غونډه کې هیله وښوده، چې د هېواد ټولو ښځو او نجونو ته فولیک اسید ټابلېټونه ورکړي.

د عامې روغتیا وزارت د تغذیې د ادارې رییسې مرسل مناتي وویل، د فولیک اسید له ټابلېټونو څخه استفاده هېڅ زیان نه لري، بلکې د وینې او اوسپنې د کمښت مخه نیسي.

هغې زیاته کړې: «د دغو ټابلېټونو د وېش په ذریعه مور او تاسې د اوسپنې د کمښت له امله د کم خونۍ پر وړاندې وقایه کوو، له ټولو ځوانانو غواړو چې د فولیک اسید په خوړلو بسیاینه ونه کړي، بلکې له اوسپنې لرونکو خوړو نه هم استفاده وکړي».

هغې زیاته کړې، د هېواد په اوسني وضعیت کې خلک او په تېره د ښوونځیو زده کوونکي د بېوزلۍ، ناامنیو او نورو مواردو له امله نه شي کولی په کافي اندازه ویټامین لرونکي خواړه وخوري، خو فولیک اسید ټابلېټونه کولی شي چې د ویټامینونو او اوسپنې ځای ونیسي. ټیټ قد، د حافظې او اعصابو کمزوري، ټیټ فشار، د نوکانو ماتېدنه او د وېښتانو تویېدل، په بدن کې د اوسپنې او وینې د کمښت نښې دي. په ورته وخت کې د ښوونځیو ځینو زده کوونکو ویلي، له فولیک اسید ټابلېټونو څخه یې په استفادې ډېرې روغتیایي ستونزې حل شوې دي.

بلخوا د پوهنې وزارت د ښوونځیو د بدني روزنې او روغتیا رییس محمد اکبر عمرخېل په یاده ناسته کې ویلي، چې د ښوونځیو له لارې به د دغه پروگرام په پلي کېدو په نجونو کې د وینې د کمښت او ذهني کمزورۍ ستونزه حل شي.

## شکایتونو کمېسیون: د ټاکنو خپلواک کمېسیون لاهم په درغلیو کې د ښکېلو کسانو نوملړ نه دی راسپارلی

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر خپله پرېکړه عمل نه دی کړی او لا یې هم د خپلو هغو کارکوونکو نوملړ دوی ته نه دی سپارلی چې پر ټاکنیزو درغلیو او سرغړونو تورن دي.

دغه کمېسیون ویلي، د هغه پرېکړه لیک پر بنسټ چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون لاسلیک کړی، دا نوملړ باید د لړم په ۲۸مه دوی ته سپارل شوی وای.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دې پرېکړې نږدې یوه اونۍ تېرېږي چې ویلي یې وو، خپل هغه کارکوونکي به شکایتونو کمېسیون ته معرفي کړي، چې پر ټاکنیزو جرایمو تورن دي، خو د دغو کسانو نوملړ لا هم یاد کمېسیون ته نه دی سپارل شوی.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کمېشنر قطب الدین رویدار ازادي راډیو ته ویلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر اوسه نه دی توانېدلی، چې پر خپلې دې پرېکړې عمل وکړي.

هغه دغه راز ویلي: «د انتخاباتو خپلواک کمېسیون پرېکړه مونږ ته هم رارسېدلې او پکې واضېح لیکل شوي چې د عقرب میاشتې په ۲۸مه یې باید دا لېسټ مونږ ته سپارلی وای، مگر داسې ونه شول. پرون(وړمه ورځ) داسې گنگوسې هم وې چې دا نوملړ دوی د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون ولایتي دفترونو ته سپارلی دی».

د یادونې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لړم په ۲۵مه پرېکړه وکړه چې پر ټاکنیزو درغلیو تورن خپل کارکوونکي به شکایتونو کمېسیون ته معرفي کړي.

د دغه کمېسیون په پرېکړه لیک کې له دارالانشا وغوښتل شول چې د دغو کسانو نوملړ د لړم میاشتې تر ۲۸مې بشپړ او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته وسپاري.

که څه هم د عقرب میاشتې په ۲۹مه د ټاکنو خپلواک کمېسیون ازادي راډیو ته وویل چې پر ټاکنیزو درغلیو د تورنو کسانو نوملړ د کمېسیون د مشرې حوا علم نورستانۍ لخوا لاسلیک شوی او ډېر ژر به دغه نوملړ د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته وسپارل شي؛ خو اوس یاد کمېسیون وایي، لا هم پر ټاکنیزو جرایمو د تورنو د نوملړ پر چمتو کولو کار روان دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرستیال عصمت الله مل ویلي: «ټولو هغو کسانو چې درغلي کړې، په اړه یې د شواهدو او مدارکو تر پیدا کولو وروسته به د دوی نوملړ د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون ته ولېږل شي. په دې اړه کار روان دی او ژر به دا نوملړ ولېږل شي، خو له دې کبله چې زموږ عملیاتي کارونه روان دي او دقت هم مهم دی، نو له بشپړېدو وروسته به کمېسیون ته ولېږل شي».

بلخوا بیا پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپله هره پرېکړه کې پاتې راغلی دی.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو یا فیفا اجرایه رییس یوسف رشید ویلي، داسې ښکاري چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د خپلو پرېکړو په عملي کولو کې جدي نه دی.

# د ټاکنو نامعلوم برخلیک؛

## د ثبات او همپالنې ټیم د نویو اعتراضونو د پیلولو خبرداري ورکړي دي



د ولسمشریزو ټاکنو له نامعلوم برخلیک سره هممهاله ټاکنیزو ډلو د نوو غبرگونونو لپاره تیاری ښودلی دی. د ثبات او همپالنې ټاکنیزه ډله وایي چې که تر راتلونکې اونۍ د رایو د برخلیک په اړه کمېسیون د دوی غوښتنې ونه مني، نو د اعتراضونو په یوه نوي پړاو به پیل وکړي. دا چې د اعتراضونو دغه پړاو به څه وي، په اړه یې معلومات نه دي ورکړي. بلخوا ولسمشر غني بیا تېره ورځ په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې افغانستان نور د خبرداریو هېواد نه دی او هر څه د قانون د حاکمیت په رڼا کې حل فصل کېږي.

له ولسمشریزو ټاکنو پوره دوې میاشتې واوښتې، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون لا هم بریالی نه شو چې د دغو ټاکنو پایلې اعلان کړي. سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د پایلو د اعلان او په ټاکنو کې د شفافیت لپاره میلیونونه ډالر ولگول او بایومتریک سیستم یې وپېره؛ خو بیا هم کمېسیون د پایلو پر اعلان او د مهالوېش په عملي کولو بریالی نه شو. د ټاکنو خپلواک کمېسیون پخوانۍ رهبري هم په همدې موخه بدله شوه، چې نوې رهبري وکړی شي پر وخت او شفافې ټاکنې مدیریت کړي، خو د شنونکو په باور، کمېسیون یې په چارو کې ناکا م دی.

تازه د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ ټاکنیزه ډله وایي، په ډېرو ولایتونو کې یې د رایو د بیاشمېرنې مخه نیولې ده او اعتراضونه یې دوام لري؛ خو که یې کمېسیون غوښتنو ته ځواب ونه وایي، د اعتراضونو نوی پړاو به پیل کړي. دې ټاکنیزې ډلې ویلي، که ټاکنو کمېسیون تر راتلونکې شنبې د دوی له خوا پېژندل شوې مشکوکې رایې باطلې نه کړي، دوی به اعتراضونو ته نوی رنگ ورکړي.

د دغې ټاکنیزې ډلې لومړي مرستیال عنایت الله بابر فرهمند پرون په یوه غونډه کې له خپلو پلویانو وغوښتل چې په اوو ولایتونو کې د پیل شویو اعتراضونو ملاتړ ته ور ودانگي. هغه وویل: ((اوس عملاً اعلانوو، د افغانستان ټول خلک دې چې د خطرونو په قبلولو سره یې د خپل برخه لیک ټاکلو په موخه رایه ورکړه، اوس دې د خپل مسوولیت د ادا کولو لپاره د ۷ ولایتونو له معترضینو سره یوځای شي، که د شنبې تر ورځې کمېسیون تقلبي رایې باطلې نه کړې، مونږ به د اعتراضونو یو نوی څپرکی پرانیزو)).

د عبدالله عبدالله ټاکنیزه ډله پر شاوخوا دریو لکو رایو اعتراض لري چې د دوی په خبره، له ټاکلي وخت مخکې صندقونو ته لوېدلې او یا یې هم د کارولو بڼه او څرنگوالی یې معیاري نه دی. یاده ټاکنیزه ډله وایي، کمېسیون باید لومړی دغه شمېر رایې باطلې کړي او بیا په ولایتونو کې مشکوکې رایې بیا وشمېري. د ټاکنو کمېسیون او د ثبات او همپالنې ډلې تر منځ ناندرۍ هم د همدې موضوع پر سر پیل شوې چې له امله یې په ۷ شمالي ولایتونو کې همدغه ټیم د ټاکنو د دفترونو دروازې تړلې دي.

د ټاکنو کمېسیون تر دې وړاندې ویلي وو چې دوی ته باید د رایو د بیاشمېرنې اجازه ورکړل شي او دوی په دې توگه کولی شي سمې او ناسمې یا پاکې او باطلې رایې سره بېلې کړي. د اعتراضونو له خبرداري سره هممهاله ولسمشر غني بیا ویلي چې ټول باید قانون ته درناوی وکړي.

ولسمشر غني چې پرون یې په کابل کې یوې غونډې ته خبرې کولې وویل، اوس د ناندریو وخت تېر شوی دی او ټول باید قانون ته درناوی وکړي. د ده په خبره، ملي امنیتي ځواکونه د قانون ساتندوی دي او اجازه نه ورکوي چې څوک قانون تر پښو لاندې کړي.

د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې تر دې وړاندې هم د اعتراضونو خبرداری ورکړی و او ویلي یې وو چې که د ټاکنو خپلواک کمېسیون یې غوښتنو ته پام ونه کړي، نو دوی به خپل اعتراضونه پراخ کړي. د ولسمشر غني په مشرۍ دولت جوړوونکي ټیم بیا پر ټاکنیزو ډلو غږ کړی چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون دې خپلو چارو ته پرېږدي او قانون ته دې درناوی وکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند ذبیح الله سادات د ثبات او همپالنې ټیم د څرگندونو په اړه ویلي، دغه ټاکنیزه ډله دې له دوی سره همکاري وکړي چې په پاتې ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه بشپړه شي. بلخوا تر دې وړاندې د دغه کمېسیون د دارالانشا مشر ویلي وو، که په ۷ ولایتونو کې اعتراضونه دوام کوي، دوی به د شته رایو او په ۲۵ ولایتونو کې د بیاشمیرنې د پایلو له مخې، پرېکړه وکړي.

# اوچا: روان میلادي کال له ۳۷۵ زرو زیات افغانان د جگړو له کبله بې ځایه شوي دي

د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا اوچا په خپل تازه راپور کې ویلي، چې د ۲۰۱۹ میلادي کال له پیل څخه تر روانې اونۍ پورې ۳۷۵ زره او اته سوه افغانان د جگړو له امله له خپلو مېنو نورو سیمو ته کډه کېدو ته اړ شوي دي.

اوچا په دغه راپور کې چې تېره ورځ یې خپور کړی، ویلي چې د جگړو د دوام له امله اکثره دغه بې‌ځایه شوي کډوال خپلو سیمو ته نه دي ستانه شوي.

د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر دغه راز ویلي چې پر دې سربېره، د هغو ۲۵۴ زرو بې‌ځایه شوو کډوالو چې د وچکالۍ له امله په تېر ۲۰۱۸ میلادي کال کې د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوي وو، ۷۵ زره یې بېرته خپلو کورونو ته نه دي ستانه شوي او لا هم د هرات په ولایت کې اوسېږي.

د اوچا د دغه راپور له مخې، سږ کال د افغانستان له دوو گاونډیو هېوادونو ایران او پاکستان څخه هم تر اوسه څه باندې څلور سوه زره افغانان بېرته خپل هېواد ته ستانه شوي دي.

د یاد راپور پر بنسټ، په روان ۲۰۱۹ میلادي کال کې درې سوه زره او ۵۰۰ افغان کډوال له ایران او ۲۲ زره او ۹۰۰ نور له پاکستان څخه افغانستان ته ستانه شوي دي.

په راپور کې وړاندې راغلي: «له ترکیې څخه د افغان کډوالو د ستنولو بهیر هم مخ پر زیاتېدو دی او په روان ۲۰۱۹ میلادي کال کې ۲۲ زره او ۷۲۳ کډوال افغانستان ته ستانه شوي او همداشان یو کم شمېر افغان کډوال له اروپایي هېوادونو څخه هم افغانستان ته ستانه شوي دي».

د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا اوچا د راپور له مخې، په روان ۲۰۱۹ میلادي کال کې شاوخوا یو میلیون افغانان جدي بشري مرستو ته اړتیا لري.

په ورته وخت کې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت ویلي چې په روان ۲۰۱۹ میلادي کال کې له بهرنیو هېوادونو څخه له ۴۴۴ زرو څخه زیات افغان کډوال خپل هېواد ته ستانه شوي دي.

د دغه وزارت مرستیال ویاند محمد رضا باهر امریکا غږ ته ویلي چې په دغه شمېر کې له ترکیې، تاجکستان او ازبکستان څخه ستانه شوي ۲۷ زره افغان کډوال هم شامل دي.

# ولسمشر غني: هېڅوک د قانون حاکمیت ته گواښ نه شي پېښولای

د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د اعلان پر سر وروستیو کړکېچونو او خبرداریو ته په پام، تازه ولسمشر غني د قانون پر تطبیق د ټینگار تر څنگ ویلي، هېڅوک د قانون حاکمیت ته گواښ نه شي پېښولای.

هغه دغه راز زیاته کړې چې افغانستان د معاملو ځای نه، بلکې د پرېکړو وطن دی.

نوموړي چې تېره ورځ یې د نظامي ښځینه وو د سولې او امنیت په لومړنې کنفرانس کې خبرې کولې، وویل چې د افغانستان دښمنان دې دا فکر له سره وباسي چې افغان ولس به ننواتې ته مجبور کړي.

هغه زیاته کړې، طالبان باید متوجه شي چې له یو قوي دولت او پیاوړي ولس سره مخ دي. نوموړي دغه راز په یاد کنفرانس کې ویلي چې سوله د ټولو افغانانو غوښتنه ده او له همدې کبله په یوه قوم او سمت پورې تړلې نه ده.

ولسمشر غني د یادو څرگندونو تر څنگ ویلي، د افغانستان په اوسني حالت کې هېڅوک د قانون حاکمیت ته گواښ نه شي پېښولی او افغانستان د معاملو ځای نه، بلکې د پرېکړو وطن دی.

هغه ویلي: «هېڅوک د قانون حاکمیت نه شي گواښلی، موږ د قانون تابع یو او د قانون پر بنسټ خپلې دندې مخ ته وړو او باید هغوی په دې ځان پوه کړي چې په گواښ سره معامله نه شي کولای او دا هېواد د معاملو نه، بلکې د پرېکړو وطن دی».

ولسمشر غني دا څرگندونې داسې مهال کوي چې په دې وروستیو کې د ولسمشرۍ مانۍ لومړي مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم ویلي، که چېرې په شمالي ولایتونو کې د ټاکنیزو مسایلو اړوند د دوی خلک اعتراض وکړي او پر وړاندې یې زور وکارول شي، دی به یې ځواب په مرمۍ ورکړي.

نوموړی دغه راز داسې مهال د قانون پر حاکمیت ټینگار کوي چې ځینې حقوقپوهان وایي، د ملي یووالي حکومت پر مهال تر ډېره د قانون د نقضېدو پېښې لیدل شوې دي.

د افغانستان د حقوقپوهانو ټولنې غړی وحید فرزه‌یي وایي: «د ملي وحدت حکومت په راتگ سره په هېواد کې د قانون د نقض موارد زیات شوي او دغه شان دوام لري. که چېرې حکومتونه قانون ته تن کېنږدي، نو له خلکو به څه تمه وي».

حقوقپوهان پر دې باور دي چې له قانون سرغړونه؛ زورواکۍ، ناامنۍ، بدمرغۍ او وروسته پاتې والي ته زمینه برابروي.

# راپورونه: د پاکستان سترې محکمې د پوځ د مشر په تړاو د عمران خان پرېکړه ځنډولې ده



د پاکستان سترې محکمې د دغه هېواد د لومړي وزیر هغه پرېکړه ځنډولې، چې له مخې یې د دغه هېواد د پوځ د مشر جنرال قمر جاوید باجوه دنده درې کاله نوره غځولې وه.

د پاکستان د پوځ اوسنی مشر قمر جاوید باجوه چې د ۲۰۱٦ میلادي کال د نومبر له ۲۹م راهیسې د پاکستان د پوځ د لوی درستیز په توگه دنده مخ ته وړي، روانه درې کلنه دوره یې د روانې اونۍ د پنجشنبې په ورځ پای ته رسېږي.

د پاکستان سترې محکمې ویلي چې د هغه د دندې د غځېدو صلاحیت د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان نه، بلکه د دغه هېواد د ولسمشر عارف علوي دی.

خو د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د پاکستان لوی څارنوال سترې محکمې ته ویلي چې ولسمشر دغه پرېکړه تایید کړې وه.

د راپورونو له مخې، د پاکستان قاضي القضات اصف سعید ویلي، دا څرنگه امکان لري چې عمران خان د اگسټ په ۲۱مه د باجوه د دندې د غځېدو پرېکړه لاسلیک کړي، داسې چې هغه دوې ورځې مخکې د اگسټ په ۱۹مه د پاکستان ولسمشر تایید کړی و.

خو لوی څارنوال ویلي چې د ولسمشر له تایید وروسته دغه پرېکړه د کابینې په غونډه کې له تصویبېدو وروسته، لومړي وزیر بیا لاسلیک کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د روان کال د اگسټ میاشتې په ۱۹مه د پوځ د لوی درستیز په توگه د جنرال باجوه دنده د دریو نورو کلونو لپاره غځولې ده.

هغه مهال د عمران خان له دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي وو چې دغه پرېکړه سیمه ییز امنیت او چاپېریال ته په پام شوې ده.

د یادونې ده چې د دغه هېواد ستره محکمه به د نوموړي په اړه پرېکړه کوي او که د عمران خان پرېکړه باطله کړي، جنرال باجوه باید د روانې اونۍ د پنجشنبې په ورځ تقاعد وکړي.

په ورته وخت کې ځینې منتقدین د پاکستان پوځ پر دې تورنوي چې د دغه هېواد په سیاست کې د برلاسۍ رول لوبوي.

دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې د مولانافضل رحمان په مشرۍ د دغه هېواد پر پلازمېنه اسلام اباد سربېره، په ځینو لویو ښارونو کې د عمران خان پر ضد پراخ لاریونونه وشول چې ویل کېږي دغه لاریونونه هغه مهال بېرته غلي شول کله چې د دغه هېواد پوځ له ملکي حکومت څخه خپل ملاتړ څرگند کړ.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دریمه برخه**

**افغانستان**

### اتم څپرکی

### په لوی ننګرهار کې نوي او پخواني اسلام پال




د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې حاجي روح الله او د هغوی د جماعت الدعوه القران والسنه ډله هم کونړ ته لاړل چې له طالبانو وروسته په انتقالي دولت کې ونډه واخلي. حاجي روح الله په کونړ کې لویه سیاسي برخه واخیسته. د ۲۰۰۲ز کال په جون کې یې په بېړنۍ لویه جرګه کې هم د کونړ په استازیتوب ونډه واخیسته. هغه ډېر ژر په اګسټ میاشت کې ونیول شو او د امریکایانو د ګوانټانامو زندان ته ولېږل شو. د هغه د زندان په دوسیه کې ښکاره شوه چې د برېټانیا د حکومت له کوم استازي څخه یې پیسې او ټلیفونونه اخیستي وو. د بل راپور له مخې، هغه د ۲۰۰۲ز کال په مارچ کې له ISI څخه ۱۲۰۰۰ امریکایي ډالر اخیستي وو چې د افغانستان د لنډمهالي ادارې پر ضد له جګړې سره همکاري وکړي. هغه په دې هم تورن و چې له افغانستان څخه یې پاکستان ته د عربو په رسولو کې همکاري کړې وه.

د راپورونو له مخې په ګوانټانامو زندان کې ډېرو زندانیانو بد ترې وړل. که څه هم د ۲۰۰۵ز کال په راپور کې د هغه په زندان کې د پاتې کېدو پر دوام ټینګار شوی و، خو هغه د ۲۰۰۸ز کال په دوبي کې د افغانستان یوه زندان ته ولېږل شو چې بیا له هماغه ځای ژر خوشي شو. هغه یوې عادي دندې ته اوړه ورکړه، د خپل صافي قوم د مشر په توګه یې فعالیت پیل کړ. د هغه کشر ورور او مرستیال حاجي حیات الله د خپلې ډلې فعالیتونه له پاکستان څخه رهبري کول.

خو د یوه مشر د نه موجودیت له کبله په کونړ کې امریکایي ضد جګړه پای ته ونه رسېده. د دوو کلونو په تېرېدو سره په ۲۰۰۳ز کال، په کونړ کې جګړه پیل شوه. د نوو طالبانو جګړه له باجوړه پیل شوه، په کوم ځای کې چې په ۱۹۸۰ز لسیزه کې د کونړ سلفیان مېشت وو. په پای کې کونړ او نورستان د القاعدې، د افغانستان اسلامي امارت، اسلامي حزب، د پاکستان د طالبانو تحریک، د پاکستان دیوبندي ډلو او لشکر طیبه د جګړو پر سنګر اوښتی و. د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک غړی، قاري ضیاءالرحمن تر ټولو مخکښ کس و. هغه به کله ناکله پاکستان ته تګ کاوه، هلته به یې له باجوړ څخه پر کونړ او نورستان سربېره په پاکستان کې هم جګړه کوله.

په کونړ کې د سلفیانو شبکه تر ټولو بریالۍ وه. جماعت الدعوه القران و السنه او نورو سلفي شبکو د وخت په تېرېدو له طالبانو سره اړیکې جوړې کړې. د ۲۰۱۰ز کال په پیل کې دا ډله په رسمي توګه د افغانستان د طالبانو په اسلامي تحریک کې ګډه شوه.

له ۲۰۰۵ز کال څخه د نورستان او کونړ ولایتونو د سلفي جنګیالیو په لیکو کې پښتنو، نورستانیانو، پنجابیانو، عربو او د مرکزي اسیا یاغیانو ونډه لرله. د کونړ په پیک، کورینګل او د نورستان په وایګل درو کې د جنګیالیو او امریکایي ځواکونو تر منځ سختې جګړې وشوې. امریکایي ځواکونو کورینګل درې ته نږدې اډه جوړه کړه چې دې درو ته د جنګیالیو له ور ننوتلو مخنیوی وکړي. دې درې ته نږدې مېشتېدل امریکایي ځواکونو ته ډېر سخت تمام شول، تر ۲۰۱۰ز کال پورې کورینګل درې ته نږدې څلور څلوېښت امریکایي سرتېري ووژل شول او په سلګونو نور ټپیان شول. امریکایي ځواکونو پر دې ځای د مرګونو درې نوم کېښود. امریکایي ځواکونو د وایګل درې په واناټ کلي کې تر ټولو سخته جګړه وکړه او ډېره مرګ ژوبله ورته واوښته. د ۲۰۰۸ز کال په جولای کې یې وایګل درې ته نږدې یوه پوسته جوړه کړه چې د جګړو په ترڅ کې د دې کسانو له ډلې نهه تنه ووژل او ۲۷ تنه نور یې وژغورل شول. د ۲۰۱۱ز کال په پیل کې امریکایي ځواکونه له پیک درې ووتل خو شپږ میاشتې وروسته بېرته ورغلل. له ۲۰۰۳ز کال څخه وروسته په دې ځای کې له (۱۰۰) څخه ډېر امریکایي سرتېري وژل شوي وو.

د پاکستان د پنجابیانو سلفي سازمان، لشکر طیبه هم د کونړ او نورستان په جګړو کې ونډه لرله. دې ډلې له ۱۹۸۰ز لسیزې څخه له سلفي ډلې، جماعت الدعوه القران والسنه سره اړیکې لرلې. کله چې کونړ کې جګړه پیل شوه، دې ډلې د کونړ اوسېدونکو ته په پېښور کې د افغان کډوالو په یوه کلي کې د جګړې د مهارتونو روزنه پیل کړه. د دې ډلې جګړه مار په جګړه کې له ځایي افغانانو ډېر تکړه وو، هغوی په پیک دره کې له افغانانو سره اوږه پر اوږه جګړه کوله.

کله چې پاکستاني طالبان په ۲۰۰۹ز کال له سوات وشړل شول، هغوی هم نورستان ته پناه یوړه. په ۲۰۱۰ز کال د پاکستاني طالبانو د تحریک جګړه مارو پولې ته نږدې برګ متال ولسوالي ونیوه. په ۲۰۱۱، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ز کلونو کې یادې ډلې د خیبر پښتونخوا په دیر ولسوالۍ کې پر پوله پاکستانیو ځواکونو د بریدونو پړه پر غاړه واخیسته.

اسلامي حزب په پاکستان کې خوندي ځایونه لرل، دې ډلې په نورستان او کونړ ولایتونو کې هم فعالیت کاوه. اسلامي حزب هم په حکومت کې ونډه لرله او هم یې جګړه کوله. د اسلامي حزب ډېرو غړو له ۲۰۰۱ز کال وروسته د کرزي په اداره کې د پارلمان د استازو، والیانو او په کابینه کې د غړو په توګه دندې لرلې. د دې ډلې یو قوماندان، کشمیرخان د کونړ په جګړه کې پوره درې لسیزې افسانوي نوم لاره. نوموړی له روسي ځواکونو، سلفي او مجاهدو ډلو، طالبانو او امریکایي ځواکونو سره جنګېدلی و. په جګړه کې د هغه شهرت ته یوازې په سویل ختیځ افغانستان کې جلال الدین حقاني رسېدی شوای. **دوام لري...**

# د مینې رازونه

اکسوس کتابپلورنځی

مینه هغه کلمه ده چې هېڅ مخالف نه لري او هر څوک په درنه سترګه ورته ګوري، د ټولو خوښېږي، د هر چا پر ذهن ښه لګېږي او په ټوله کې مینې ته ښکلا، ښایست، ظرافت، اخلاق او ان ښه انسانیت ویلای شو. نو چې مینه دومره له ښکلاوو ډکه او دومره د ښو اخلاقو ټوټه ده، باید چې یو څه برخه یې ولرو.

مینه د ژوند دویم نوم دی، ښکلا او مینه بیا یو له بل سره ډېرې نږدې اړیکې لري، هسې خو هره طبیعي پدیده په خپل ذات کې یو نه یو ډول ښکلا او جذابیت لري چې سترګې مو د ځان پر لور راکاږي. له بل پلوه ذوقونه او ذهنیتونه هم د ښکلا د رازونو په پوهېدو کې توپیر کوي. هغه داسې چې یو چا ته یو څه ډېر ښکلی ښکاري، خو د بل چا په سترګو کې کېدای شي، هغه څه بیا دومره ښکلي نه وي. یوه مشهوره خبره ده چې وایي: «لیلا ته د مجنون په سترګو ګوره». یانې ښکلا او ښایست له سترګو سره کار لري، کله کله یو چا ته وایو چې نن ډېر ښکلی ښکارې، په خواب کې اورو، سترګې دې ښکلې دي.


ژباړن وایي: «دا چې مینه د انسان په ژوند کې دومره ارزښت لري، نو ما هم هڅه کړې چې د نړۍ د اوسنیو او پخوانیو نامتو پوهانو «ګاري چاپمن، اشفاق احمد، پروین شاکر، اېلف شافاک، ډاکټر علي شریعتي، جبران خلیل جبران، اپلاتون، ژان ژاک روسو، سیدجمال الدین افغان، ډاکټر سیموېل الکساندر، والټر لېپمن، مامون رشید، الکساندر، پوپ ټوماس، جای اورډ، وونارګ، شانفور، کوسټېن، رابوټن، امیل زولا، مارسل ټېنر، اندره ټوریه، ایوانز، ګراټس، کرني، مارکوس بېکل، ژرژسان، بکت، فرېبر راستګو، ارنسټ همینګوې، سفوکل، اېډنر او نورو» له لوري د مینې په اړه سپړل شوي رازونه پښتو ته را وژباړم. پوره هڅه مې کړې، هغه خبرې چې ستر رازونه پکې پراته دي، په ساده او لنډو ټکو بیان کړم.

د هېواد جګړه ییزو او خونړیو حالاتو ته چې ګورو، زموږ ماشوم، ځوان، بوډا، ښځینه، نارینه او هر پاړکی (طبقه) مینې ته سخته اړتیا لري، دلته هره ورځ جګړه، تورتم، بدبختي، لوږې او تندې دي، نو په داسې یوه حالت کې مې د داسې یوه کتاب تشه حس کړه چې لږ تر لږه خلکو ته مینه ور وپېژني او له بدبختیو یې یو څه په ارام کړای شي».

هغه اړیکې، راشه درشه، ملګري او په ټول کې ژوند چې د مینې پر اساس یې حرکت نه وي پیل شوی، اصلاً به بې خونده او بې مانا وي.

مینه هغه پدیده ده چې ژوند ته رښتینې مانا ورکوي او تاسې ته د ژوند کولو اصلي لارې ښیي. مینه مو د نفرت او کینې خلاف ژوند ته رابولي او ستاسې پر مخ د خوښیو ور پرانیزي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Black Water | Jeremy Scahill | ۳۲۰أف |
| ۲ | Many miles to Go | Brian Tracy | ۲۵۰أف |
| ۳ | Official Toefl iBT Tests secound Edition Volume1 | Mc Graw Hill | ۵۰۰أف |
| ٤ | Official Toefl iBT Tests secound Edition Volume2 | Mc Graw Hill | ۵۰۰أف |
| ۵ | Still Me | Jojo Moyes | ۲۷۰أف |
| ٦ | The Art of Seduction | Robert Greene | ۲۳۰أف |
| ۷ | The Concise 48 Laws of Power | Robert Greene | ۱٤۰أف |
| ۸ | You can Sell | shiv khera | ۲۰۰أف |
| ۹ | اساسات نرسنگ | ریاض احمد شرف زی | ۲۵۰أف |
| ۱۰ | استراتیژی بازاریابی صادرات | شامینگ زو دگوان کیم | ۳۵۰أف |
| ۱۱ | اقتصاد سنجی | بدی بلتاجای | ۳۵۰أف |
| ۱۲ | پیشگیری از جرم پیشگیری رشد مدار | محمود مهدوی | ۲۵۰أف |
| ۱۳ | حقوق بین الملل خصوصی | نجاد علی الماس | ٤۵۰أف |
| ۱٤ | څنګه دوستان پیداکړی او پرنورو نفوذ وکړی | ډیل کارنیګي/انبي مصداق | ۱۷۰أف |
| ۱۵ | د آزادۍ نارې او د مغلګي غمیزه | سخي سرور میاخېل | ۱۲۰أف |
| ۱٦ | د پرمختګ پیل | جان مکسوېل | ۱۳۰أف |
| ۱۷ | د جذب ځواک | برایان تریسی | ۱۰۰أف |
| ۱۸ | د رهبرۍ اخلاق | جان مکسوېل | ۱۰۰أف |
| ۱۹ | د غاښونو چینجن کیدل | علی محمد سلام زی | ۸۰أف |
| ۲۰ | د ګونتانامو ۳ بندیان | نظرمحمد مطمین | ۸۰أف |
| ۲۱ | د ګېډې جراحي | ګل اقا سادات | ۲۵۰أف |
| ۲۲ | د ماکرو اقتصاد بنسټونه | احسان الله سعید | ۲۰۰أف |
| ۲۳ | د مینې رازونه | حسیب الرحمن ساحل | ۱۰۰أف |
| ۲٤ | رادیولوژی | نجیب الله خلیلی | ۱۳۰أف |
| ۲۵ | سل څېرې سل تجربې | حسیب الرحمن نورمل | ۱۰۰أف |
| ۲٦ | طالب مشرانو سره شپږ ورځې | نظرمحمد مطمین | ۲۰۰أف |
| ۲۷ | طالبان په جاپان کې موږ په وارسا کې | نظرمحمد مطمین | ۱۲۰أف |
| ۲۸ | مالیه ی بین الملل | دنیس اپل یارد.آلفرد فیلد. استیون کاب | ۳۵۰أف |
| ۲۹ | میتود های پالیسی سازی عامه | میلاد بارکزی | ۱۵۰أف |
| ۳۰ | ناروغ ناول | مومند محمدي اخر | ۷۰أف |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,٦۰ |
| € | ۸٦,۵۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,٤۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# پولي سیاستونه

لیکنه: گلاب بهار

پولي سیاست هغه سیاست دی، چې د مرکزي بانك له خوا د پیسو د وړاندې کولو د کنټرول او د اقتصادي عمومي سیاست د اصلي موخو د تر لاسه کولو لپاره کارول کېږي. یا په بله وینا، پولي سیاست د هغو تدبیرونو او تصمیمونو له ټولگې ځخه عبارت دی، چې د ټاکلو اقتصادي موخو، په ځانگړې توگه د ثبات د ټینگښت، استقرار او پولي ارزښت په موخه نیول کېږي او یا هم پولي سیاست له هغو مالي فعالیتونو څخه عبارت دی کوم چه د یو هېواد د مرکزي بانک له خوا اداره او کنټرول کېږي، لکه: د پیسو برابرول، د پیسو رامنځ ته کول، د اسعارو د تبادلې نرخ یا ارزښت ټاکل، د پیسو گټه او داسې نورې اړوندې دندې، څو مرکزي بانک وکولای شي چې اقتصادي پرمختگ وکړي، د اسعارو د تبادلې نرخ ثابت وساتي، خلکو ته د کار زمینه برابره کړي، د توکو نرخونه ثابت یا ځای پر ځای وساتي او د یو هېواد مروجې پیسې په ثابته توگه وکاروي. په ورته توگه اسلامي پولي سیاست هم د دې لپاره پکار وړل کېږي، څو اقتصادي اهداف لکه د نرخونو ثبات، د عاید منصفانه وېش، د بېکارۍ له منځه وړل او داسې نور لاسته راوړل شي.

په لنډ ډول داسې ویلای شو چې پولي سیاست هغه سیاست دی، چې د مرکزي بانك له خوا د پیسو د وړاندې کولو د کنټرول او د اقتصادي عمومي سیاست د اصلي موخو د تر لاسه کولو لپاره کارول کېږي.

**د پولي سیاست عاملین**

**د پولي سیاست عاملین په لاندې ډول دي:**

الف- مرکزي بانك: په اوس وخت کې مرکزي بانك د هر خپلواك او مقتدر هېواد لپاره د یوې مهمې مالي موسسې رول لري، ځکه دا موسسه د دولت د اقتصادي سیاستونو په بشپړتیا، په ځانگړې توگه د پولي او مالي سیاستونو په چوکاټ کې مهم رول لوبوي او کړنې یې د دولت د سمو اقتصادي او مالي فعالیتونو لپاره اړینې دي او د هېواد د پولي چارو مدیریت پر غاړه لري. مرکزي بانك د بانکونو د بانك په نامه هم یادېږي. مرکزي بانك په ځینو هېوادونو په ځانگړې توگه مخ پر وده هېوادونو کې د حکومت تر مستقیمې ادارې لاندې خپلې دندې تر سره کوي، خو د هر هېواد مرکزي بانك له نورو هېوادونو سره د دندو په برخه کې توپیرونه لري. پر دې بنسټ د وخت په اوږدو کې د مرکزي بانك د دندو د زیاتوالي په پام کې نیولو سره یو لنډ او نه بدلېدونکی تعریف ستونزمن دی. سره له دې مرکزي بانك ښيي چې د مرکزي پولي موسسې په توگه چې د سوداگریزو بانکونو د دندو ټاکل، د دولت مالي استازیتوب او د هېواد د پولي سیستم رهبري کول پر غاړه لري، هم یې باید یادونه وشي.

اقتصادپوهانو هم مرکزي بانك په بېلابېلو ډولونو تعریف کړی دی. د بېلگې په توگه، شو (Shw) مرکزي بانك د اعتبارونو د کنټرولوونکي په توگه تعریف کړی دی. همداشان (How Trey) مرکزي بانك د پور لپاره د وروستۍ سرچینې په توگه تعریف کړی دی. ځینې پوهان د مرکزي بانك عمده دندې د پولي بنسټ ساتنه او ثبات بولي او ځینې نور بیا د مرکزي بانك له خوا د پیسو د نشریدو پر دنده ټینگار کوي. په هر حال کې سوداگریز بانکونه له خلکو څخه امانتونه نه قبلوي، ډېرې کارونه چې سوداگریز بانکونه یې د خلکو پر وړاندې باید تر سره کړي، نه یې تر سره کوي.



مرکزي بانك په مخ پر وده هېوادونو کې مستقل طبیعت نه لري، په ځینو هېوادونو کې نیمه مستقل طبیعت لري، لکه په کاناډا او انگلیستان کې. په ځینو هېوادونو کې مرکزي بانك بشپړ واك لري، لکه د امریکا په متحده ایالتونو کې چې رییس یې د ولسمشر او مشرانو جرگې په وړاندیز ټاکل کېږي او د بانك رییس یوازې د مشرانو جرگې (سنا) پر وړاندې مسوولیت لري.

د مرکزي بانك موخه د نورو مالي موسسو په څېر د گټې تر لاسه کول نه دي، بلکې موخه یې د کنټرول له لارې د پیسو د ثبات او ارزښت ساتل او د حجم مراقبت او همداشان د نورو بانکونو او مالي موسسو د ناکامۍ مخنیوی دی او په ځینو هېوادونو کې د مرکزي بانك پانگه په خصوصي ملکیت پورې تړلې، خو د عامه موسسو په ردیف کې راځي.

ب- سوداگریز بانکونه: سوداگریز بانکونه د سوداگریزو چارو د آسانتیا، د سوداگریزو فعالیتونو د پراختیا او د لنډمهاله امانتونو د ورکړې دنده لري. دا بانکونه د خلکو د غوښتنو پر بنسټ میعادي امانتونه قبلوي او د دغو بانکونو یووالی د عامه زیان لامل گرځي، له همدې امله تل د مرکزي بانك تر څارنې او کنټرول لاندې وي. دغه بانکونه په ځینو هېوادونو کې د بیمې په موسسو کې په ځانگړي ډول بیمه کېږي، څو د غریبو او منځنیو خلکو د امانتونو د زیانمنېدو مخه ونیول شي. د بېلگې په توگه، په امریکا کې دا دنده د امانتونو د بیمې فدړال موسسه (Deposit) پر غاړه لري.

د جاري حساب یا عندالمطالبه امانتونه د دې بانکونو تر ټولو عمده امانتونه دي، چې د دې ډول طلباتو څښتن کولای شي د خپلو امانتونو په مقابل کې چك ولیکي. په ځینو هېوادونو کې د عندالمطالبه او میعادي حسابونو تر منځ بېخي زیات توپیر لیدل کېږي. د بېلگې په توگه، په افغانستان کې د سپما امانتونو لپاره له ۵ تر ٦ سلنو پورې گټه ورکول کېږي، حال دا چې د عندالمطالبه امانتونو لپاره هېڅ گټه نشته، خو په ځینو هېوادونو کې دا توپیر له منځه تللی دی. د جاري امانتونو لپاره گټه ورکول کېږي، خو دا سلنه په مراتبو د سپما امانتونو له گټې څخه کمه ده.

ټول سوداگریز بانکونه مکلف دي، چې د قانون مطابق د خپلو امانتونو یوه ټاکلې سلنه د قانوني زېرمو په توگه په مرکزي بانك کې کېږدي. د امانتونو (سپارنو) بله برخه اضافي زېرمې بلل کېږي، چې د بانکي صندوقونو له موجودۍ سره یو ځای، د دې لپاره له نغدوالي څخه نسبت شتمنۍ ته ډېره برخمنه ده، کولای شي د چکونو د نغدولو په موخه چې په مستقیم یا نامستقیم ډول د بانکي حسابونو د یوه حساب لپاره ایستل کېږي، وساتل شي. اصولاً بانکونه خپلې مهمې گټې د اعتبار د ورکړې له لارې تر لاسه کوي، چې دا دولتي او نادولتي برخې ته د پور په ډول د سوداگریزو بانکونو د شتمنیو یوه فیصدي گڼل کېږي.

نن ورځ د بانکوالۍ سیستم پرمختللی دی او د بانکونو تر منځ اړیکې د کمپیوټر او برېښنایي سیستم له لارې ټینگېږي. په ځانگړې توگه، زموږ په هېواد افغانستان کې سوداگریز بانکونه په بشپړه توگه پرمختللي او انټرنېټي شبکې په واك کې لري. لکه د Core Banking Sestem سویفټ، د گرځنده ټلیفون له لارې بانکوالي او نور پرمختللي وسایل، چې په لنډ وخت کې ډېر خدمتونه تر سره کولای شي.

سوداگریز بانکونه د یو هېواد په اقتصادي پرمختگ کې مهمه ونډه لري. که په یو هېواد کې سوداگریز بانکونه نه وي، نو د هغو هېوادونو اقتصادي پرمختگ له خنډ سره مخامخېږي او په اسانۍ سره نه شي کولای چې خپل اقتصادي پرمختگ ته ادامه ورکړي.

دا چې سوداگریز بانک د پرمختگ یو عامل دی، نو په اکثره پرمختیایي هېوادونو کې عام خلک پیسې سپموي، چې دغه سپماوې په دوه ډوله دي:

**الف) تولیدي سپما:** عبارت له هغې سپما څخه ده، چې د بېلابېلو اقتصادي کړنو په تمویل کې ترې استفاده کېږي او په اقتصادي پرمختگ کې ونډه لري.

**ب) غیر تولیدي سپما:** په دې ډول سپماوو کې پیسې له اقتصادي جریان څخه وځي. په پیسو کې عدم تعادل رامنځ ته کېږي، بانکونه له تادیاتي ستونزو سره مخامخېږي او د پیسو د کمبود سبب گرځي. په دغه ډول سپماوو کې عام خلک پیسې په کورونو کې زېرمه کوي.

له بل طرفه "کېنز" د غیر تولیدي سپما په هکله وایي: ((همدا غیر تولیدي سپما ده، چې په اقتصاد کې د پیسو د عدم تعادل سبب گرځي.)) همدارنگه د اقتصاد د علم له نظره، پانگه د تولید یو عامل دی چې د سپما په اساس رامنځ ته کېږي، چې په دې نقطه کې بانکونه اساسي نقش لري، ځکه بانکونه دي چې عام خلک د رسنیو له لارې هڅوي څو په کورونو کې زېرمه شوې پیسې بانکونو ته په بېلابېلو حسابونو (جاري حساب، معیادي حساب، مضاربت) ورکړي او دغه غیر تولیدي سپما پر تولیدي سپما بدله کړي، چې دغه تبادله د سوداگریزو بانکونو په واسطه صورت نیسي، ورسره پیسې په اقتصادي جریان کې لوېږي او د اقتصاد په بېلابېلو څانگو کې لگول کېږي چې له یو طرفه عامو خلکو ته گټه رسوي او له بل طرفه د پیسو د عدم تعادل مخه نیول کېږي.

سوداگریز بانکونه هغه بانکونه دي، چې په مخامخ ډول د موسساتو، سازمانونو او عامو خلکو په چوپړ کې دي او د بانکي سیستم مهمه حلقه تشکېلوي. سوداگریز بانکونه له مشتریانو سره سوداگریزې اړیکې لري او د کړنو اصلي موخه یې د گټې لاسته راوړل دي. د بانکي قوانینو پر اساس، سوداگریز بانکونه د پیسو کاروبار کوي، د عامو خلکو سپما شوې پیسې د امانت په ډول اخلي، اړمنو خلکو ته یې د پور په ډول ورکوي، په کم سود امانتونه حاصلوي او په زیات سود یې ورکوي، چې د دواړو سودونو تر منځ تفاوت د بانک گټه تشکېلوي.

سوداگریز بانکونه په اکثره پرمختللو هېوادونو کې مشتریانوته مالي اړتیاوې برابروي، چې د گټې په منظور د بانک دندې سرته رسوي. عام خلک خپلې اضافه پیسې بانک ته د امانت په ډول ورکوي او په عوض کې یې سود اخلي، بانک هم اړمنو خلکو ته (صنعت کارانو، سوداگرو، کروندگرو) ته پیسې د پور په ډول ورکوي. دوی هم په بدله کې سود اخلي چې د دواړو سودونو تر منځ تفاوت د بانک گټه تشکېلوي او له همدې گټې بانک خپل لگښتونه پوره کوي. سوداگریز بانکونه له هغو خلکو څخه چې پانگه ولري او د کاروبار جوگه نه وي، پانگه اخلي او کاروباري خلکو ته یې ورکوي.

**ج- خصوصي بانکونه:** له هغو بانکونو څخه عبارت دي، چې خپلې بانکي کړنې په یوه ټاکلې او مشخصه ساحه پورې تړي. د اصولو له مخې، اختصاصي بانك او بانکوالي داسې تعریفېږي: ((اختصاصي بانك له هغې موسسې څخه عبارت دی، چې د یوې ټاکلې او مشخصې ساحې د پولي او کرېډېټي معاملو د تر سره کولو په موخه منځ ته راځي او د هغو اسنادو او مالونو په خرڅلاو او پېرودلو او همداشان هغو خدمتونو او تخنیکي مشورو چې د اړوندې ساحې له پراختیا او ودې سره تړاو لري، سروکار لري)). دا ډول بانکونه د خپلو فعالیتونو په ساحه کې جاري حسابونه او میعادي امانتونه منلی شي او همداشان د قانون له مخې په خپله ټاکلې او مشخصه ساحه کې د منقولو او نامنقولو مالونو د اخیستلو او خرڅولو واك هم لري.

# Maseer Daily

New Vision, New Journey




المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ شپږمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۷مه | ۴۷۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۰ | ۱٤ | ۷ | ۱۸ | ۱٥ |
| -۲ | -۲ | ۰ | -۱ | ٦ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۹ | لمر ختل ۰٦:۳٦ | ماسپښین ۱۱:٤۱ | مازیګر ۰۲:۲٥ | ماښام ۰٤:٤٥ | ماخوستن ۰٦:۱۳


## نړۍ



## راپورنه: د پاکستان سترې محکمې د پوځ د مشر په تړاو د عمران خان پرېکړه ځنډولې ده

۳

## د بشري نړیوال سازمان: د ایران په لاریونونو کې د وژل شویو کسانو شمېر ۱۴۳ تنو ته رسېدلی دی



د بشـري نړیوال سـازمان یا امنیسـتي انټرنېشنل په خپل تـازه بیـان کـې ویـلي چـې د ایـران پـه وروسـتیو لاریونونو کې د وژل شـویو کسانو شـمېر ۱۴۳ تنو ته رسېدلی دی.
دغـه سـازمان پـه یـوه بیـان کـې ویـلي چـې دغـه کسـان تـر ډېـره پـه ډزو وژل شـوي، خـو د ایـران حکومـت بیـا دا شـمېرې رد کـړې دي.
پـه بیـان کـې دغـه راز راغـلي چـې پـه دغـو لاریونونـو کې د تاوتریخـوالي پـر مهال سـلګونه کسـان ټپیان شـوي هم دي.
پـه ورتـه وخـت کـې د ازادي راډیو فـردا ځانګـړې معلومات ښـیي چـې په دغـه هېواد کـې پـه وروسـتیو لاریونونو کې څلـور زره او ۸۰۰ کسـان د دې هېـواد پـه ۱۸ ولایتونو کې نیول شـوي دي.
بلخوا د ایران سـپاه پاسـداران انقلاب اسلامي مرسـتیال قومانـدان د دغـه هېـواد لـه قضایـي ادارو غوښـتي، چـې نیـول شـویو کسـانو ته سـخته سـزا ورکړي.
دا پـه داسـې حال کې ده چې د ایران پـه لسـګونو ښـارونو کـې وروسـته لـه هغـې پـراخ لاریونونـه پیـل شـول چـې حکومـت د تېلـو بیـې لـوړې کـړې.
دغـه راز ورمـه ورځ پـه تهـران کـې بیـا د حکومت پـه پلوی هـم زرګونـه کسـان راټـول شـوي وو، چـې د ایران د سـپاه پاسـداران ځواکونـو قومانـدان حسـین سـلامي؛ امریـکا، بریټانیـا، اسراییل او سـعودي عربسـتان تـورن کـړل چـې د ایـران پـه وروسـتیو ناارامیـو کـې ښـکېل دي.

## د البانیا په لوېدیځ کې زلزلې ۱٥٦ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



د البانیـا پـه لوېدیځـو سیمو کـې سختې زلزلـې شـپږ کسـان وژلي او لسګونه نـور یـې ټپیـان کـړي دي.
د راپورونـو لـه مخـې، د دې زلزلـې شـدت د ریښـتر پـه کچـه پـه ځینـو سیمو کې درې اعشـاریه شـپږ او پـه ځینـو کـې بیـا څلـور اعشـاریه شـپږ درجـې ښـودل شـوی دی چـې لـه املـه یـې ډېـر کورونـه نړېـدلي دي.
د دغـه هېـواد د طبیعـي پېښـو پـر وړانـدې د مبارزې اداري ویلي، چې د دې زلزلـې مرکـز د تیرانا ښـار و او په همدې ښـار کې یې شـپږ کسـان وژلي او ځینـې نـور یـې ټپیـان کړي دي.
چاړواکـو ویـلي چـې د دې سـیمې لـه بېلابېلـو برخـو څخـه یـې د ۱٥۰ کسـانو د ټپـي کېـدو راپورونـه هـم تـر لاسـه کـړي، چـې د ځینـو ټپیانو روغتیایـي وضعیـت یـې د اندېښـنې وړ بلـل شـوی دی. د دې اداري د معلوماتـو لـه مخـې، ښـایي د مرګ ژوبلـې شـمېره نـوره هـم لـوړه شي.
چاړواکـو دغـه راز ویلي چـې زیانمنو سـیمو تـه یـې مرسـتندویه ټیمونـه لېـږلي او دوی هڅـه کـوي چـې ژر تـر ژره د مـرګ ژوبلـې کـره شـمېر لـه رسـنیو سره شریـک کـړي.
د یادونـې ده چـې پـه البانیـا کـې تر دې وړانـدې هـم زوررو زلزلـو د دغه هېـواد پـه ډېریـو ښـارونو کـې خلکو تـه درانـه مـالي او ځـاني زیانونـه اړولي دي.


## حقوقدانان: پیشبرد پروسهٔ حج گذشته توسط کمیسیون تدارکات خلاف قانون بوده است



شـماری از حقوقدانـان، در حالـی انتقـال پیشـبرد پروسـهٔ حـج گذشـته توسـط کمیسـیون تـدارکات ملـی را خـلاف قانـون مـی داننـد کـه برخـی حجاج افغـان، مدعـی انـد کـه در پروسـه حـج امسـال، بدتریـن خدمـات بـه آنهـا فراهـم شـده بـود.
در پروسـه حـج امسـال، بیـش از سـی هـزار تـن از افغـان هـا بـرای ادای مراسـم حـج فرضـی بـه عربسـتان سـعودی رفتـه بودنـد و پروسـه انتقـال حجـاج، دوبـاره بـه کشـور در اواخـر مـاه سـنبله بـه پایـان رسـید.
در پـی سـپردن پروسـه حـج امسـال بـه اداره ملـی تـدارکات، زایریـن بیـت اللـه شریـف بـا مشـکلات دسـت و پنجـه نـرم مـی کردنـد و خدمـات بـه شـکل معیـاری در دسـترس آنهـا قرارداده نشـده بـود.
حاجـی بنیامیـن بـارز باشـنده ولایـت فـراه کـه در مراسـم امسـال، غـرض ادای فریضـه حـج بـه عربسـتان رفتـه بـود، گفتـه اسـت کـه عمـاره هـا در دور تریـن نقطـه بـرای حجـاج افغـان بـه خصـوص ولایـات درجـه دوم و سـوم گرفتـه شـده بـود، کـه بیـش از یـک سـاعت بایـد زایریـن تـا حـرم شریـف پیـاده مـی رفتنـد.
وی از نبـود ترانسـپورت منظـم بـرای حجـاج از عمـاره الـی حـرم شریـف و برعکـس، غـذای بـی کیفیـت و حـرام بـرای مسـلمان، اختصـاص چهـار دستشـویی بـرای ۱۲۰۰ تـن از زایریـن در منـی، جابجایـی حجـاج در خیمـه هـا کـه حتـی زایریـن تـوان قـدم برداشـتن در داخـل خیمـه را نداشـتند، انتظـار هشـت سـاعته حجـاج افغـان بـرای انتقـال شـان بـه عرفـات و برعکـس آن بـه مزدلفـه و غیـره را از مشـکلات در پروسـه امسـال یـاد کـرد.
گل احمـد مددزی معـاون اتحادیـه حقوقدانـان کشـور، در صحبـت بـا آژانـس خبری پـژواک، انتقال پیشـبرد پروسـه حـج را بـه اداره تـدارکات ملـی، خـلاف قانـون و تشـکیلات اساسـی دولـت دانسـته گفـت: «ایـن کار حکومـت تعجب آور نیسـت؛ چون مـا در چـوکات قانـون در حرکـت نیسـتیم».

## ژونـــد

## امروت؛ د امیدوارو مېرمنو لپاره غوره مېوه



امروت د ویټامین (A, B1, B2, C) او دغه راز د معدني موادو لکه فاسفورس، سوډیم، کلسیم، مګنیزیم، پوتاشیم، مس او اوسپنې تر ټولو ښه زېرمه بلل کېږي.
امروت له ۷٦ نیولې تر ۸۳ سلنې اوبه او له شپږو تر ۱۲ سلنې قندي مواد لري.
په امروتو کې د اسید کچه یو یا دوه سلنه ده چې مالیک سیتریک، تانن، پکتین، انورتین او اسپاراژین یې معلوم اسیدونه دي.
د امروتو د ونې پوستکی د قبض لپاره ګټور دی؛ دغه راز که د امروتو د ونې پوستکی و ایشول شي، د بډوډو او مثانې ډبرې له منځه وړي او ادرار زیاتوي.
د امروتو د ونې پاڼې هم بې ګټې نه دي؛ د یادې مېوې ایشول شوې پاڼې کولی شي له مثانې څخه بډوډو ته غځېدلې لاره له هر ډول میکروبونو څخه پاکه کړي. د خامو امروتو په خوړلو کې باید زیاتی ونه شي؛ ځکه پر معدې فشار راوړي، خو د پخو امروتو خوړل نه یوازې د معدې لپاره ګټور دي، بلکې نورې ډېرې ګټې هم لري. که څه هم چې امروت د امیدوارو مېرمنو لپاره ښه مېوه بلل شوې ده، د هغو کسانو لپاره هم د پام وړ ګټه رسوي چې د وینې له کمښت سره مخ وي.

## لومړی ژوند زده او بیا یې وکړئ!




ژوند داسې یوې مرحلې ته رسېدلی چې د هرڅه زده کول پکې اړین دي، ژوند زده کړه غواړي، له ژونده خوند هم هغه کسان اخلي چې دوی ژوند زده کړی وي. موږ کلونه کلونه د جګړو قرباني شوي یو، د ژوند په اړه له ډېرو رازونو بې خبره یو. موږ ژوند کوو، خو د ژوند کولو په چل نه پوهېږو. ډېری خلک له خپل ژوند، هیلو، موخو، دندې، مېرمنې، اولاد یا په لسګونو نورو ستونزو شکایت کوي؛ دوی داسې فکر کوي چې دا ټولې ستونزې نورو د دوی په ژوند کې پیدا کړې دي. څوک خبر دي، کېدای شي د ستونزو لامل موږ په خپله و؟ یو وخت مې یوه جمله لوستې وه، ښایي وروسته مې ډېره لوستې وي، خوډېر په زړه پورې پیغام یې درلود او هغه دا وه: «ځان وپېژنه چې خدای و پېژنې» دا خبره د کاڼي کرښه ده. هغوی چې ځان وپېژني، خدای هم پېژني. زه هغه وخت د دې جملې په مانا هومره نه پوهېدم، تر ډېره به پوښتنه هم راته پیدا شوه چې دا جمله څه مانا؟ خو خبره داسې نه وه، اوس پوه شوم چې د انسان په وجود کې څومره وړتیاوې دي چې پېژندلو ته اړتیا لري، انسان د خدای د بې مثاله قدرت یوه وړه نښه ده، په واړه وجود کې هومره رازونه پټ دي، چې هېڅ حد یې نه شي معلومولی. رښتیا هم چې د ځان پېژندل د خدای پېژندل دي.